**بسم الله الرحمن الرحيم**

**<u>د پوښتنې ځواب</u>**

**د عربي هيوادونو له مشرانو سره د چينايي چارواکو د ناستو موخې**
(ژباړه)

**پوښتنه:**

الجزيرې د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۹مه پر خپله وېبپاڼه خبر خپور کړ چې: «د خليج هيوادونو د همکارۍ شورا، د خليج-چين او عرب-چين ۴۳مه ناسته جمعه د سعودي په پلازمېنه، رياض کې د يو شمېر عربي چارواکو او د چين ولسمشر، شي‌جين‌پينګ په حضور کې پيل شوه.» د سعودي، خليج هيوادونو او عربي هيوادونو له مشرانو سره د چينايي چارواکو د ناستو موخې څه دي؟ دې ته په کتو چې روسيه د زور په مټ د نفوذ او د نړۍ د څوقطبي کېدو غوښتونکې ده، ايا چين له سياسي لارې څو قطبي نړۍ غواړي او په دې ډول خپل سياسي نفوذ پراخوي او ځان د يوه لوی نړيوال قطب په توګه مطرح کوي؟ د عربي نړۍ حکام به د چين د دغه اسلوب هرکلی وکړي؟ په دې اړه د امريکا غبرګون څه دی؟

**ځواب:**
د دغو پوښتنو د ځواب لپاره پر لاندې موضوعاتو رڼا اچوو:

۱- د چين ولسمشر د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۸مه سعودي ته ورسېد او د دغه هيواد له پاچا او وليعهد شهزاده محمد بن سلمان سره يې وليدل. د چين د ولسمشر تود هرکلی وشو او دواړه لورو هراړخيز اقتصادي او د مشارکت تړون لاسليک کړ؛ په دې کې د ۳۰ ميلياردو ډالرو په ارزښت د انرژۍ او بېخبنسټونو په برخه کې تړون هم شامل و. د دغو تړونونو موخه د چين د «يو کمربند يوه لار» (د وربښمو نوې لار) ستراتيژۍ او د «د ۲۰۳۰ لرليد» په نامه د بن سلمان پروژو – چې لويه موخه يې سرګرمي ده- په چوکاټ کې د چينايي پروژو تر منځ همغږي وه. په دغه ناسته کې په سيمه کې د بازارموندنې لپاره په سعودي کې د چين پر لوی صنعتي موقعيت هم خبرې وشوې. په دويمه ورځ چينايي پلاوې په رياض کې د خليج هيوادونو له چارواکو او ورپسې په همدغه ورځ د عربي هيوادونو له مشرانو سره ناستې وکړې چې د عربي هېوادونو ډېرو مشرانو ګډون پکې وکړ؛ د چين د بهرنيو چارو وزارت د دغې ناستې په اړه وويل: «دغه ناسته د چين د خلکو جمهوريت له تاسيس راهيسې د چين او عربي نړۍ تر منځ تر ټولو پراخه ډيپلوماتيک فعاليت ښيي.» (بي بي سي، ۸/۱۲/۲۰۲۲). په دواړو ناستو کې د چين او عربي هيوادونو ترمنځ پر مشارکت او دوه اړخيزه همکارۍ ټينګار وشو او په وروستي بيانيه کې يې پر عامو موضوعاتو لکه؛ اوسني نړيوال نظم ته درناوی، د هيوادونو حاکميت ته درناوی، د ځواک نه کارول، د ښه ګاونډيتوب اصولو ته درناوی، د فلسطين قضيې مرکزيت او د هستوي وسلو د پراختيا مخنيوي؛ باندې ټينګار وشو. چين له خليج هېوادونو سره د ناستې په وروستۍ بيانيه کې پر ايران نيوکه کړې او ترې غوښتي يې چې خپلو ګاونډيو ته درناوی وکړي. [«خليج هيوادونو او چين پرون په رياض کې د چين-خليج ناستې په پای کې يوه ګډه بيانيه خپره کړه. په دغې بيانيه کې د هغو درېګونو ټاپوګونو په اړه چې ايران يې خپل ملکيت ګڼي، د متحده عربي اماراتو لخوا د خبرو اترو او سوله‌ايزې لارې حل ملاتړ وشو. دغه راز له ايران څخه وغوښتل شول چې د اټومي هوکړې خبرې اترې له سره جدي پيل کړي.» (الميادين، ۲۰۲۲/۱۲/۱۰)]. د يادولو وړ ده چې د چين د دغه دريځ په غبرګون کې تهران د يا هيواد سفير احضار کړی.

۲- د امریکا د نوي ستراتیژۍ له مخې چین د امریکایي واکمنۍ پر وړاندې تر ټولو ستر ګواښ ګڼل کیږي او د دوی په باور چین د دې وړتیا لري چې په نړۍ کې خپل نفوذ پراخ کړي؛ ځکه چین تر امریکا وروسته دویم اقتصادي ځواک دی او د پوځي بودیجې د تخصیص له مخې هم په نړۍ کې دوهم ځای لري. له همدې امله، امریکا د چین اقدامات له نیږدې څاري، د پیاوړتیا مخه یې نیسي او ان له چین سره جګړې ته ځان چمتو کوي. د تایوان د کړکیچ په تړاو د ولسمشر بایډن وروستۍ څرګندوني همداسي ښيي. امریکا سعودي ته د چین د ولسمشر سفر داسي وارزاوه: [سپینې ماڼۍ چهارشنبه په یوه بیانیه کې وویل: «سعودي ته د چین د ولسمشر سفر د حیرانتیا وړ نه دی؛ ځکه موږ پوهېږو چې بیجینګ په منځني ختیځ کې د خپل نفوذ زیاتولو په هڅه کې دی.» د امریکا د ملي امنیت شورا د ستراتیژیکو اړیکو د همغږۍ مسول، جان کربي وویل: «موږ هغه نفوذ چې چین یې به نړۍ کې زیاتول غواړي، درک کوو.» نوموړي زیاته کړه، «د چین سفر حیرانوونکی نه دی او دا خبره هم نه ده حیرانوونکې چې د سفر لپاره یې منځنی ختیځ وټاکه.» (سي ان ان عربي، ۲۰۲۲/۱۲/۱۸)].

۳- له بل پلوه، چین هڅه کوي داسي وښيي چې د امریکایي نړیوال نظم مخالف نه دی؛ د امریکا غوښتنې تکراروي؛ په دغه سفر کې د چین د ولسمشر له خبرو همداسي ښکارېده، په ځانګړي ډول د ناستې په وروستۍ بیانیه کې یې د نړیوال قانون له مخې د نړیوال نظم پر ساتلو، د اټومي وسلو د پراختیا پر مخنیوي او د ترهګرۍ ضد مبارزه باندې ټینګار کړی؛ په دې بیانیه کې یې ان په ضمني ډول پر روسیه نیوکه کړې؛ دا چې د هیوادونو حاکمیت ته درناوی، د ځواک او ګواښ کارولو مخنیوی او د ښه ګاونډیتوب اصولو ته درناوی یادوي، اشارتاً په اوکراین کې د روسیې جګړې ته ګوته نیول شوې. همدا رنګه په دې بیانیه کې چین پر ایران نیوکه کړې او ترې غوښتې یې چې د ښه ګاونډیتوب اصولو ته ژمن پاتې شي او د خلیجي هیوادونو په چارو کې لاسوهنه ونه کړي؛ دا نیوکه یې هم د غربي هیوادونو او امریکا نیوکو ته ورته ده چې تل پر ایران مستقیماً ورته نیوکې کوي. د ایران لخوا د چین د سفیر احضار یو ځل بیا ښيي چې د روسیې، چین، ایران او شمالي کوریا په استازیتوب د یوه «نوی نړیوال بلاک» د جوړېدو ادعا خیالي ده او په واقعیت کې هیڅ نشته.

۴- له عربي هېوادونو سره د چین د اړیکو په اړه باید ووایو چې په سعودي کې دغو ناستو له نړیوال اړخه د دوی په اړیکو کې هېڅ بدلون نه دی راوستی. دا سمه ده چې سعودي د چین د ولسمشر تود هرکلی وکړ او د ۲۰۲۲م کال په جولای کې د امریکا د ولسمشر هرکلی دومره تود نه و؛ خو د دې سبب دا و چې سعودي له ډیموکراټ ګوند سره د جمهوري غوښتونکو په سیالۍ کې د جمهوري غوښتونکو پر خوا دی او له ډیموکراټ ګوند او شخصاً بایډن سره یې اړیکې سړې دي؛ بل دا چې بایډن د سعودي عربستان ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان ته ځان دومره نه دی نیږدې کړی او ډېر درناوی نه ورته لري. سربېره پردې، عربي هیوادونو له هند او المان سره هم د ستراتیژیک مشارکت تړونونه لاسلیک کړل؛ خو دغو تړونونو ته د تړاو یا په سیاسي تړاو کې د بدلون په سترګه نه کتل کیږي.

۵- دا چې چین په خپل شاوخوا کې له لویو سیاسي ستونزو کړیږي؛ لکه له تایوان سره ستونزه، چې تایوان خپله خاوره بولي خو له ځان سره یې د یو ځای کولو وړتیا نه لرئ، له ویتنام سره ستونزه او یا له ګڼو نورو هیوادونو سره د ټاپوګانو پر سر ستونزې. دغه راز دا چې چین خپلې نیږدې او دوستانه اړیکې تقریباً له شمالي کوریا سره خلاصه کوي؛ دغو ټولو ته په کتو باید ووایو چې له شک پرته چین نه په عربي هېوادونو کې د سیاسي تړاو هیله لري او نه پلان؛ په ځانګړي ډول دا چې له امریکا او انګلستان سره د عربي هېوادونو د حکامو له پخو اړیکو خبر دی. نو عربي هیوادونو ته د چین د ولسمشر سفر، هلته د ناستو کول او اقتصادي تړونونه په هېڅ صورت د نیږدې یا لرې سیاسي تړاو په معنی نه دي، یوازې د هیوادونو ترمنځ اقتصادي

اړیکي رانغاړي او باید یوازې له اقتصادي اړخه ورته وکتل شي. دا سفر ممکن ځینې سیاسي دلالتونه هم ولري، خو دا دلالتونه له سیمې یا یې د حکامو له سیاسي تړاو سره کومه اړیکه نه لري. مثلاً پر ایران د چین نیوکه د دې لپاره وه چې له غرب سره خپل دریځ یو کړي او دا ثابتوي چې چین پر ایران د نړۍ له انتقادي دریځ اخوا حرکت نه کوي او دا کار یې دا پایله نه لري چې له خلیج هېوادونو سره د ایران پر وړاندې سیاسي مداخله وکړي. دغه راز یې په وروستۍ بیانیه کې پر روسیه ضمني نیوکه لکه؛ د هیوادونو حاکمیت ته درناوی، د ځواک نه کارول او د ښه ګاونډیتوب اصولو ته ژمنتیا؛ له دې ټولو څخه ښکاري چې چین له روسیې سره د اوکراین په جګړه کې ملتیا نه کوي او له نړۍ سره په اړیکو کې خپله سوله‌ییزه ډیپلوماتیکه تګلاره پرمخ وړي.

۶- چین له خلیج هیوادونو سره اقتصادي اړیکې ځکه پالي چې د امریکا او اروپا له لوري یې د صنعتي ځنځیر له پرې کولو وېرېږي؛ په ځانګړې ډول غربي مارکېټونو ته د چین د صادراتو له بندولو. هغه تعامل چې نن د روسیې پر انرژۍ د زیات باور په سبب د اروپا د ستراتېژیکي تېروتنې په اړه کېږي، هغه څه دي چې په راتلونکي کې به د چین پر تولیداتو د غرب د ډېر باور په اړه وشي او د دغه تعامل نښې نښانې عملاً ښکاره شوې؛ د المان د بهرنیو چارو وزیر، بېربوک وویل: [«موږ به نور پرې نه ږدو چې د خپلو حیاتي قضیو په برخه کې پر هغو دولتونو باور وکړو چې له موږ سره ګډ ارزښتونه نه لري. له شک پرته د هیله‌مندۍ پر بنسټ بشپړ اقتصادي باور موږ له سیاسي ګواښ سره مخ کوي.» (المیادین، ۲۰۲۲/۱۱/۲)]. دغه راز د جرمني لومړي وزیر، اولوف شولتز له بیجینګ څخه تر وتلو وړاندې «فرانکفرټر تزایتونګ» ورځپاڼې ته په یوه مقاله کې ولیکل:«المان باید چین ته په نیږدې کېدو کې چې د مارکس او لیلین سیاسي لیدلوري پر اساس نیږدې کېدو خواته روان دی، بدلون راولي.» نومړي زیاته کړه، «الماني شرکتونه باید په صنعت کې پر چینایي توکو خپله خطرناکه تکیه کمه کړي.» (شرق الاوسط ورځپاڼه، ۲۰۲۲/۱۱/۴). چین د دې لپاره یو شمېر مخنیوونکي اقدامات وکړل چې ځینې یې دا دي:

**الف: له روسیې څخه ځان لرې کول:** چین تمه لرله چې ولسمشر پوتین به په اوکراین کې خپل اهداف لاسته راوړي او چین به د روسیې له نړیوال رول څخه ګټه واخلي؛ پر اوکراین د روسیې برید په تړاو د چین دریځ له پیله مبهم و. د امریکا او اروپا پراخ ملاتړ اوکراین ته د مقاومت توان ورکړ او دې کار چین له روسیې څخه لرې کړ او نامستقیماً یې پر روسیې نیوکې زیاتې کړې؛ دا خبره د ۲۰۲۲م کال په اکتوبر کې د چین کمونیست ګوند له وروستۍ غونډې وروسته ښکاره شوه؛ په دې غونډه کې شي‌جین‌پینګ ټول واخل په لاس کې واخیست او خپل سیالان یې د ګوند له دفتره وایستل. له دې وروسته چین له متعادلې روسیې ځان نور هم په چټکۍ لرې کړ. چین دا نه شي زغملی چې امریکا او اروپا یې د روسیې د انرژۍ تولیداتو پشان تولیدات ور بند کړي؛ چین دغه احتمال په خپلو محاسبو کې ځای کړی.

**ب: له غربي دریځونو سره ورته والی:** چین امریکایي نړیوال نظم ته ژمنتیا اعلان کړه او پر هر هغه څه چې غرب نیوکه کوي، دوی یې هم کوي؛ لکه د خلیج هیوادونو په چارو کې د ایران پر لاسوهنه نیوکه. چین غواړي غرب ته ووایي چې چین د نړۍ له «متمدنو» هېوادونو دی چې د ځینو هیوادونو بې رحمه تګلارې ردوي. ښایي په راتلونکو ورځو کې د چین د دا ډول درځونو د ډېرو بېلګو شاهدان وو؛ لکه دا چې له نظامي اړخه به له تایوان څخه لرې شي او له امریکا به وغواړي چې شخړې یې کمې کړي او دغه راز به د شمالي کوریا د اټومي بحران په حل کې همکاري وکړي. چین دا کارونه ځکه کوي چې امریکا او اروپا غرب ته د دوی تولیدات بند نه کړي.

**ج: اقتصادي بدیلونو ته پام زیاتول:** چین د عربي هیوادونو بازارونو ته د یوه بدیل په سترګه ګوري؛ که څه هم غربي مارکېټونو ته دومره مهمه نه ده. یعنې که امریکایي او اروپایي مارکېټونو ته د چین تولیدات بند شي، نو عربي بازارونه ورته بدیل کېدی شي؛ که څه هم دا بازارونه د امریکایي او غربي بازارونو په پرتله ګټل کېږي. که امریکا او اروپا پر چین خپله تکیه کموي، عربي مارکېټونو له افریقایي او لاتیني امریکا له مارکېټونو سره یوځای، د چین د اقتصاد لپاره د یوې لارې په توګه کارېدی شي.

۷- د عربي هیوادونو اقتصادي اړخ ته په کتو، له عربي او خلیج هېوادونو سره د چین ناستې داسې ارزولی شو:

**الف:** په عربي هیوادونو کې له لسیزو ناکام حاکمیت وروسته او دا هېوادونه د وچ ځنګل په څېر دي چې ممکن په هره کوچنۍ جرقه اور واخلي؛ ځینې خپل نیم راتېول شوي مالیات د سودي پورونو پرې کولو لپاره ورکوي. د ناکامو اقتصادي تګلارو او پر غرب ډېرې تکیې په پایله کې یې پولي واحدونه په چټکۍ خپل ارزښت بایلي او د توکو بیې په لوړېدو دي چې دا د خلکو د لاریونونو ګواښ زیاتوي. له خلیج هیوادونو پرته کابو ټول عربي هېوادونه له سختو اقتصادي ستونزو کړېږي؛ دا واقعیت د دې سبب شوی چې د دغو هیوادونو حکام چین ته د خپل اقتصاد د احتمالي ژغورونکي په سترګه وګوري؛ داسې چې ډېر پورونه ترې اخیستی شي او د پیسو نړیوال صندوق له ځینو سختو شرایطو څخه خلاص شي. چین هم فرصت لري چې د لویو بهرنیو پروژو له لارې په دغو هیوادونو کې سترې پانګونې وکړي چې ګټه یې د پراخ حکومتي فساد په سبب عربو حکامو او د هغو ملاتړو ته رسېږي.

**ب:** امریکا د خپلو اقتصادي ستونزو د حل لپاره پر خپلو مزدورانو ډېره تکیه کوي؛ لکه له سعودي سره د ټرمپ اداري د وسلو خیالي تړون. امریکا د خپلو اقتصادي ګټو د تامین په موخه ان د خپلو سیالانو پر مزدورانو هم فشار راوړي؛ لکه پر قطر، چې د انګلستان مزدور دی، یې چې فشار راوړ؛ تر دې چې په امریکا کې د قطر پانګونې د دغه هیواد حکامو ته د ژغورنې رسۍ شوه او له دې لارې کولی شي په حاکمیت کې پاتې شي؛ ان تر دې چې ټرمپ د خپلې ادارې پر وخت د سیمې له هېوادونو وغوښتل چې د دوی د ملاتړ په بدل کې پیسې ورکړي. د هغو لویو ستونزو په سبب چې عرب حکام یې لري؛ امریکا دوی هڅوي او یا لږ تر لږه له اقتصادي اړخه چین ته د دوی د مخ اړولو خنډ نه ګرځي. ممکن دا د امریکا د پلان یوه برخه وي چې د چین اقتصاد د امریکا له مزدورانو سره د اقتصادي مرستو له لارې کمزوری کړي او دا د چین د ودې د مخنیوي لپاره د امریکا د سیاست یوه برخه وي. نو د چین-عربي هیوادونو اقتصادي همکاري او مشارکت د امریکا لپاره هیڅ ګواښ نه دی او نه د امریکا مزدوران د چین لور ته مایل کوي.

۸- له دې ټولو سره سره، له دغو ناستو څخه د چین موخې اقتصادي دي او چین په عربي نړۍ کې له امریکا او اروپا سره د سیاسي نفوذ په سر سیالي نه کوي؛ ځکه چې تر اوسه یې وړتیاو او اراده نه لري. چین ان په خپل ګاونډ، ختیځه اسیا کې تر اوسه سیاسي نفوذ لاسته نه دی راوړی. چین د دغو غونډو او اقتصادي تړونونو له لارې غواړي په عربي نړۍ کې یوه اقتصادي لار پیدا کړي او خپل پیاوړی وساتي؛ د خلیج او عربي هیوادونو له انرژۍ څخه د خپلو کارخونو چلولو لپاره کار واخلي، ځان د مدني نړۍ د یوه غړي په توګه مطرح کړي او ووایي چې موږ د هغو هیوادونو له ډلې نه یو چې غرب یې «سرکشه دولتونه» بولي، لکه ایران او شمالي کوریا. چین دغه راز نه غواړي له هغه نړیوال عزلت سره مخ شي چې نن یې د روسیې مرۍ ټینګه نیولې؛ چین غواړي له عربي نړۍ، افریقا او لاتیني امریکا سره یوازې اقتصادي اړیکې ولري، دا کار د هغې احتمالي وېرې په سبب کوي چې غربي بازارونو ته د امریکا او اروپا له لوري د خپلو تولیداتو

له بندېدو يې لري؛ چین د خپلې دوستانه تګلارې پر مټ غواړي غرب ته ځان نیږدې وښيي او له روسيې څخه ځان لېرې کړي.

۹- د يادونې وړ ده چې عربي چارواکي د ختيځ ترکستان پر مسلمانانو د چين د بې رحمه کړنو په تړاو هيڅ انديښنه نه لري. هغوی د چين له ولسمشر سره په دومره په صميمانه فضا کې خبرې کولې، چې ګواکې د ايغور د مسلمان مسله اصلاً نشته! له دې ښکاري چې دغه حکام ډېر کمزوري شوي، د اسلامي امت له ملتيا يې لاس اخيستی او دوی ته د مسلمانانو چارې او وضعيت هېڅ ارزښت نه لري. دوی ته تر ټولو اساسي او برخليک ټاکونکې موضوع د خلکو د اعتراضونو پر وړاندې د خپلو څوکيو ساتل دي. دوی په خپلو ټولو سياستونو کې ناکام شوي او د خپلو خلکو لپاره څه نه شي کولی. په ناستو کې ټولې خبرې اترې پر اقتصادي اړيکو او نړيوالې سوداګرۍ متمرکزې وې؛ ته به وايې چې د ايغور د مسلمانانو پر وړاندې وحشت او جنايتونه بيخي په بله نړۍ کې پېښېږي!

۱۰- په دې کې هېڅ شک نشته چې د خلافت له ړنګېدو وروسته عرب او د ټولو مسلمانانو حکام په ډېر ناوړه وضعيت کې دي؛ دا وضعيت د دوی د نابودۍ د نيږدې کېدو خبر ورکوي. ځکه د هغو ويجاړيو لويه کچه چې دوی له امريکا، اروپا او چين سره په همغږۍ راوړې، دومره ده چې له دوی څخه يې د جبران کولو لار ورکه کړې او نور په هېڅ صورت نه شي کولی هغه موقعيت ته لاړ شي چې په حاکميت کې د دوی بقا توجه کړي. دوی به د الله سبحانه و تعالی له قهر او عذاب سره مخ کېږي؛ ځکه چې اسلام يې پرېښی او له هغو کسانو سره په جګړه بوخت دي چې پر ځمکه د اسلامي ژوند بيا راتګ غواړي. دوی د استعمارګرو کفارو امرونه داسې مني چې ته به وايې ړانده دي او د ښه او بد توپير نه شي کولی.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**{أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ}(النحل:۲۱)**

***ژباړه:*** *«دوی ژوندي نه، بلکې مړه دي او نه پوهېږي چې کله به راپاڅول شي(بيا راژوندي کړای شي).*

**۱۴۴۴هـ.ق، د جمادي الاول ۲۲مه**

**۲۰۲۲م کال د ډسمبر ۱۶مه**